**د قراداد ورکولو د پرېکړې په اړه خبرتیا**

**موضوع**: د فدا لمیتد شرکت ته د قرارداد ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درې څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د معلوماتی تکنالوژی آمریت لپاره د سرور رومونو د ځای پرځای کولو د اړتیا وړ توکو چمتو او نصبولو قرارداد د فدا لمیتد شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د 4500-0101 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې د پل خشتی مسجد شاته، سحر گل سرای د کابل په مرکز کې دی. د قرارداد ټولیزه بیه (15,044,550) پنځلس میلیونه څلور څلویښت زره پنځه سوه او پنځوس افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به قرارداد منعقد نه شي.